# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

# خزقی ایل: د رویاګانو انسان



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

ډېره موده مخکښې لويو لښکرو په يهوداه حمله وکړه. د خدائ خلق ئې واپس بابل ته د غلامانو په طور بوتلل. د خپلو کورونو نه لرې، دا يهوديان د خابور درياب په غاړه اوسېدل. د هغوئ په مينځ کښې د خدائ يو خادم، خزقی ايل وو.



یوه ورځ، خدایٔ خزقی ایل له یوه رویا ورکړه. د خدایٔ جلال په لویه رڼا کښې د څلورو اور لرونکو ځناورو په شکل کښې ښکاره شو. د هر یو څلور مخونه او څلور وزرونه وو. د هغویٔ د پاسه یو ښکلے تخت وو، د ځلېدونکو څېزونو نه ډک وو. کله چې خزقی دا ولېدل نو پړمخې پرېوتلو.



خدایٔ خزقی ایل سره خبرې کوی، اے بنی آدمه، زهٔ تا بنی اسرائیلو خواته، یعنی هغه باغی قوم خواته لیږم چا چې زما خلاف بغاوت کړے دے. په یو لاس کښې طومار نیولے رابنکاره شو. خدایٔ ووئیل، دا طومار وخوره. او لاړ شه د اسرائیل کورنۍ سره خبرې وکړه.



ځومره عجیبه حکم وو.
خو خزقی ایل تابعداری وکړی، طومار وخوری او لاړ شی.

د خدایٔ روح خزقی ایل اوچت کړی او هغه یو ځایٔ ته د
خوبار دریاب په خوا کښې اوسېدونکو
غلامانو یهودیانو خواته
ولېږی. تر اووه ورځو
پورې به هغه هلته
کښېناستو چرته چې به
هغوئ کښیناستل، څۀ چې
هغۀ ولېدل نو پرې حېران
شو. بیا خدایٔ خزقی
څوکېدار جوړ کړی.
هغۀ له بدکاره خلق
خبرداره کول وو چې هغوئ د خدایٔ نافرمانی ونۀ کړی.





خزقی ايل ډېرې عجيبه خبرې کوی چې د خدائ کلام خلقو
ته واضحه کړی. هغه د خاورې د ښختې په يوه ټکړه باندې
د يروشلم تصوير جوړ کړی. ډېر خلق ورته ګوری چې کله
هغه د يروشلم نه چاپېره لښکر جوړوی. هغهٔ وئيل چې د
خدائ دا پاک ښار به ډېر زر تباه شی.

د اسرائیل، شمالی بادشاهۍ تر لس کم ځلور سوه کالو پورې د خدائ نافرمانی کوله، او یهوداه، جنوبی بادشاهۍ تر ځلوېښت کاله پورې. ځکه اسرائیل تباه کړے شوے وو او یهوداه به ډېر زر راوغورزولے شی. خدائ خزقی ایل ته وائی چې خپل کس طرف ته لس کم ځلور سوو ورځو د پاره ځمله، او بل خپل ښی طرف ته ځلوېښتو



ورځو د پاره، چې خلقو ته د خپلو ګناهونو کالونه رایاد شی.



نو خلق سوچ شروع کړی، چې خزقی
خو ډېر عجیبه انسان دے. هغه هر څۀ
داسې کوی لکه چې خدائ ورته وئیلی
وی. یوه ورځ هغه خپل وېښتۀ کټ
کړی او درېمه حصه ئې وسوزوی. دا
ئې په دې خبره پوهه کول چې کله د
بابل لښکر په ښار حمله کوی نو د
یروشلم درېمه حصه خلق به په
بیماری او قحط مړۀ شی.



حزقي ایل د خپلو وېښتو بله درېمه حصه لرې کړی. دا ئې
په دې خبره پوهه کول چې درېمه حصه خلق به د دشمن په
توره مړهٔ شی. او آخری دریمه حصه وېښتهٔ حزقی ایل په
هوا کښې والوځوی. خو یو څو وېښتهٔ ئې په جامو پرېوځی د
دې نښې په طور خدائ به خپل یو څو کسان بچ کړی او
هغوئ به واپس



وعده کړے شوې
زمکې ته ولېږی.

دا زړۀ ور نبی غلامانو اسرائيلو ته وائی چې
حالات به نور هم خراب شی، هغه شان ښه به
نۀ وی څنګه چې د هغوئ اُميد وی.
خلق د خزقی ايل نه خفه شی. خو
هغه د خدائ کلام اوری. يوه
ورځ، کله چې هغه د اسرائيل
مشرانو سره ناست وو، خدائ
خزقی ايل له يوه بله رويا
ورکړی. په رويا کښې،
خدائ هغه د هغۀ د
وېښتو نه راونيسی، او په يروشلم
کښې د خدائ کور ته ئې بوځی.



د خدائ په کور کښې، خدائ خزقی ایل ته، خوئیدونکی څېزونه، پلیت ځناور او بتان وښائی. دا څېزونه کله هم د خدائ په کور کښې نهٔ وو پکار.



مشرانو د خدائ په ځائ د دغه ښځونو عبادت کولو. خدائ خزقی ایل ته دا هم وښائی چې د هغۀ جلال د خدائ د کور نه روان دے او هغه به تباه شی. چې کله رویا ختمه شوه، نو حزقی ایل یهودیانو ته د دې په حقله ووئیل.





څۀ چې خدائ ووئيل هم هغه شان وشول. يروشلم تباه
کړے شو. ډېر خلق مړۀ شول. چې کوم يهوديان په بابل
کښې قيد وو، چې کله هغوئ دا واورېدل نو حېران شول
چې ولې خدائ خپل خلق همېشه د پاره پرېښودل.

خو خدایٔ خپل نبی له یو بل پېغام ورکړو. هغهٔ حزقی ایل د اوچو هډوکو... د انسانی هډوکو نه ډکې وادیٔ ته بوتلو.



خدائ حزقی ایل نه تپوس وکړو، اے بنی آدمه، ولې دا هډوکی ژوندی کېدے شی څۀ؟ حزقی ایل جواب ورکړو، اے مالکه خدایه تا ته ښه پته ده. یقیناً چې دا اوچ هډوکی کله هم بیا نۀ شی راژوندی کېدے.



خدایۀ فرمائی، دې هډوکو ته نبوت وکړه او ورته وواېه، اے اوچو هډوکو، د خدایۀ کلام واورئ! نو تاسو به راژوندی شئ. چې کله هغۀ تابعداری وکړه، نو حزقی ایل یو لوئ آواز واوری. ستاسو په خیال به دا د څۀ آواز وی؟



چې کله نبی دې ته په حېرانتیا سره وکتل نو د هډوکو نه بدنونه جوړېدل.



بيا، پرې غوښه راغله.



او څرمنې هغه غوښنه پټه کړه، خو ساه په کښې نهٔ وه.



خدائ فرمائی، نبوت وکړه، اے بنی آدمه او ووایه، د څلورو
طرفو نه دې هوا راشی، اے په دوئ کښې ساه واچوه چې
ژوندی شی. چې کله حزقی ایل داسې وکړل، نو هغوئ کښې
ساه راغله. هغوئ ژوندی شول او په خپلو پښو اودرېدل.

وادی د یو لوئ
لښکر نه
ډکه
شوه.



خدائ ته پته وه چې په بابل کښې يهوديانو نااُميدی محسوسوله چې کله په يروشلم زوال راغلو. هغه د حزقی ايل د رويا په ذريعه پېغام وليږی. دا هډوکی د ټول اسرائيل کورنی ده. خدائ فرمائی. زۀ به خپل روح په تاسو کښې واچوم او تاسو به ستاسو زمکې ته راولم.



دا د خدایٔ د طرف نه څومره زبردست د اُمید پیغام وو!
د خدایٔ وعدې د حزقی ایل په ذریعه پوره شوې، چې کله
یهودیان بیا وروستو خپل وطن ته راواپس شول. هغویٔ ته پته



وه چې مالک خدایٔ
هغویٔ خپل کور
ته راوستی دی. د
خدایٔ کلام همیشه

پوره کیږی.

# خزقی ایل: د رویاګانو انسان

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

حزقی ایل

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"
زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲